# د لوړو زده کړو وزارت
# بُست پوهنتون
# د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی
# اداره او ډیپلوماسی څانګې کتلاګ

## د بُست پوهنتون پېژندنه:

بُست پوهنتون د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت د لوړو زده کړو وزارت د (1391,1,28) نېټې د (487) ګڼه حکم او د خصوصي پوهنتونونو او لوړو زده کړو موسساتو رياست د (44) ثبت ګڼې پر بنسټ په( 4 /2/ 1391 ) نېټه د هلمند ولایت په لښکرګاه ښار کې د لوړو زده کړو موسسې په چوکاټ کې تأسیس او په خپل اکاډمیک فعالیت ئې پیل وکړ چې د ښو او لوړو معیارونو په رعایت او پوره کولو سره په ۱۳۹۴ لمریز کال کې یې پوهنتون ته ارتقاء وکړ.

## د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي پېژندنه:

په افغانستان کې د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی په کال ۱۳۱۷ لمریز کې د شاهي فرمان پر بنسټ د حقوقو او سیاسي علومو د اکاډمی په نامه په کابل کې تاسیس سوه او په ۱۳۲۰ لمریز کال کې د اکاډمی د ریاست د پېشنهاد او د صدارت د منظورۍ پر اساس د اکاډمی څخه پوهنځي ته ارتقا تر لاسه او درې کلنه دوره په څلور کلنه دوره بدله سوه.

د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی په ۱۳۹۱ لمریز کال کې د بُست پوهنتون له تأسیس سره یو ځای رامنځته او په فعالیت یې پیل کړی دی؛ د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی په خپل تشکیل کې څلور څانګې (قضاء او څارنوالي، اداره او ډیپلوماسي، خصوصي حقوق او نړیوالي اړیکي) لري، چې له هغې جملې څخه یې د اداره او ډیپلوماسی او قضاء او څارنوالی څانګی د اوس لپاره فعاله دي: یاده پوهنځی د لیسانس په کچه محصلین روزي چې پدې پوهنځی کې د لیسانس دوره څلور کاله ده، چې څلور سمسټرونه په مشترک ډول او نور څلور سمسټرونه پر څانګو باندی ویشل کیږي او په جلا ډول زده کړي کوي.

د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی د تأسیس له وخته تر اوسه د پوره شفافیت او لوړ کیفیت لرونکې ده او په ښه ډول یې ټول علمي چاري مخته ځي، ځینو استادانو یې د پوهنځي او پوهنتون څخه د ښه کړنو او فعالیتونو له وجې ستاینلیکونه تر لاسه کړي، د ایراسموس پلس نړیوال تحصیلي پروګرام له لارې یې یو تن محصل د اسپانیا هیواد د ډې سانتیاګو پوهنتون ته د لنډ مهاله زده کړو لپاره استولي، د محصلینو د عملي زده کړو لپاره حقوقي کلینیکونه د ( UNDP، ) USAID) او چیکي عدالت) په ملاتړ او د هغوی سره په تفاهُم او توافق په پوهنځي کې په لاره اچول سوي دي او په خپله غیږه کې یې ډیر ممتاز محصلین روزلي دي.

د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی په ۱۳۹۴ کال کې د لومړي ځل لپاره ۶۲ تنه د لیسانس په کچه په اداره او ډیپلوماسي او قضاء او څارنوالي ډیپارټمنټونو کې فارغان ټولني ته د خدمت لپاره وړاندي کړل او تر دې مهاله یې (۲۲۵) تنه ښځینه او نارینه فارغ کړي دي.

- **د اداره او ډیپلوماسی څانګې پیژندنه :**

د اداره او ډیپلومایسی څانګه د اداري او سیاسي علومو په برخه کی محصلین روزي ، پدی څانګه کی اکثره اداره او سیاسی مضامین تدریس کیږی ،اداره او سیاسی علوم د ټولنی د پرمختګ لپاره داسی یو چوکاټ جوړوی چی هغه د ژوند د ټولو اړخونو سره اړه لری د اداري او سیاسی علومو زده کړه ذهن ته وده ورکوی او تجربوی مهارتونه لمسوی ،اداري ډیپلوماتیکي پوهه یوه داسی پیاوړي دنده ده چی د ټولني داد اری سیستم ترتیب او تنظیم ر راپیژني ، که چیری څوک غواړي د حقوقو او سیاسی علومو د پوهځي (اداره او ډیپلوماسی څانګی ) برخه کي تخصص تر لاسه کړی نو د حقوقو او سیاسی علومو د پوهځي د لیسانس تر کچي زده کړی د هغه لپاره لومړنی او بنسټیز ګام دی ۰ د حقوقو او سیاسی علومو زده کړه ، نورو برخو لپاره هم اساسی نقش لری د بیلګي په ډول کورني سیاست ، بهرني سیاست ،سیاسی مذلکرات ، سیاسی استازولی، اقتصاد،تجارت ،بشری منابع ، د دولت سیمه ایز ارګانونه او عمومی ادارات ټول له حقوقو او سیاسی علومو څخه سرچینه خلی .

د اداری او ډیپلوماسی د څانګی ایجاد او د محصل د پوهی ، مهارتونو او سلوکی تغیراتو په برخه کی باید په څه ډول وروزل شی تر څو د فراغت څخه وروسته د کار په ساحه کی د ټولنی د ضرورت او اړتیا مطابق د خدمت لپاره اماده وی، په دی هکله مو د لاندی اداراتو څخه معلومات تر لاسه کړی دی.

د هلمند ولایت د اصلا حات اداري ریاست

په کندهار کښي د بهرنیو چارو ریاست

د هلمند ولایت د بشري سرچینو ریاست

د بشرحقوقو خپلواک کمیسیون

د اداري او ډیپلوماسی څانګه په ۱۳۹۴ کال کي د لومړي ځل لپاره (۴۰) تنه د لیسانس په کچه فارغان ټولني ته د خدمت لپاره وړاندي کړل او تر دې مهاله یې اته دوری محصلین ښځینه او نارینه په ګډون اداري او سیاسی ارګانونو ته د خدمت لپاره فارغ کړی دي۰

- **د څانګي میشن او ویژن:**

**د اداري او ډیپلوماسی څانګی لیرلید** (Vision)

اداري او ډیپلوماسی ډیپارتیمنټ هیله او ارزو لري چي په اسلامیی ،ملي او اکاډیمیک اصولو او ارز ښتونو سره د ټولني په اداریٔ او سیاسی ارګانو لپاره پیاوړي کادرونه تربیه او ټولني د لا ارتقا لپاره یی ټولني وړاندي کړي تر څو پدي (اداره او ډیپلوماسی )برخو کي د پرمختګ او انکشاف لپاره رغنده برخه واخلي .

**د اداري او ډیپلوماسی د څانګي ماموریت (Mission)**

اداري او ډیپلوماسی څانګه هڅه کوي هغه ځوانان چي غواړي په اداري او سیاسی برخو کي لوړي ذده کړي وکړي ،په لوړ کیفیت ،اسانه او معیار ذده کړو زمینه ورته مساعده کړي تر څو هغه ځوانان د نوموړو اسانتیاو څخه په ګټي اخیستني سره خپل اهدافو ورسیږي تر د خپل هیواد او ولس لپاره د خدمت جوګه وګرځي.

- **د پرمختګ پړاووونه:**

اداره او ډيپلوماسی څانګه د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي په علمی چوکاټ کی په فعالیت پیل کړی، چي په لومړي کانکور کي(۴۲) تنه محصلین جذب کړه چي د اووه تنه استادانو لخوا ورته تدریس کېدی، له هغه وروسته اداره او ډيپلوماسی څانګه د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی تر چتر لاندی تر اوسه ۲۰ د کانکور ازموینې اخیستي چي هر کانکور کی په مختلف شمیر محصلین جذب کړی دی. (۸ )دوری فارغین ټولنی ته د خدمت لپاره وړاندی کړي.

اداره او ډيپلوماسی څانګه وخت پر وخت علمي، عملي او د ظرفیت لوړوني پروګرامونه (ډیپلوماتیک مذاکرې، علمي سفرونه، اداري سمینارونه ، د تدریس اړونده پروګرامونه، په دولتي سکتورونو کي بستونو ته د ثبت نام پروسیجر او ...) په لاره اچول کيږي.

اداري او ډيپلوماسی څانګه په عمومی شکل د یو معیاري کتابتون څخه برخمنه ده، چي په لکونو فزيکي او الکترونيکي کتابونه پکښې شتون لري.

- **زده کړيزي موخي:**

د اداره او ډيپلوماسی څانګي فارغان به لاندي وړتیا په لاس راوړي:

د کورني، سیمه ییز او نړیوالو سیاسی مسائیلو وېشل او تحلیل.

اداری فساد په وړاندی مبارزه ۰

د څانګی دکیفیت د لوړاوی معیارونه پلی کول۰

د څیړنی او نوښت روحیه پیاوړی کول۰

د په اداره او سیاسی ارګانونو کی د منازعاتو حل و فصل کول.

په دولتي او غیر دولتي مؤسسو، ادارو او ارګانونو کي د کار کولو مهارت.

د انتقادي تفکر څخه خبرتیا او د تدریسي او تحقیق د چارو پرمخ بېولو مهارت.

د ماسټری او دوکتورا په برخو کي د لوړو زده کړو کول.

د نورو لپاره الګو پاته کېدل، په مسلک کي امانتداري، نورو ته د پوهي لېږد او د ټولني د اداري او سیاسی پوهي او پرمختګ لوړولو وړتیا.

د اداري او سیاسی پوهي او مسلکیتوب مهارت.

د اداري او ډيپلوماسی ، اداري ، سیاسی ، سیاسی نماینګي او نورو مهمو ادارو کي د کار

په خصوصي او دولتي بنستونو او شرکتونو کي د مشورې ورکولو مهارت.

- **تحصيلي نصاب :**

په ټولیز ډول د حقوقو او سیاسی علومو پوهنځی او په ځانګړی ډول داداره او ډیپلوماسی څانګی نصاب د هیواد په کچه د نورو پرمختللو نصابونو سره پرتله او موازنه شوی د ي او ټول هغه مضامین پکښې ځای پر ځای شوی دی چی اوسنی عصر کې د حقوق او سیاسی علومو د لیسانس په کچه ورته اړتیا لیدل کیږی . د اداره او ډیپلوماسی څانګی تحصیلی نصاب د کریډیټ په سیستم د اته سمسترونو لپاره ترتیب شوی دی چی پوهنتون شموله ،اختصاصی ،اساسی ، عمومی او اختیاری مضامین پکښې د ځای پر ځای شویدی .د هر سمستر د کریډیټونو شمیر او د ټولو سمسترونو کریډیټ په نصاب کې واضحاً لیکل شویدی همدارنګه د تحصیلی برنامی په کچه د مضامینو او مفرداتو ټاکل او هم د هر کورس مخکی شرط مضمون مشخص شوی همداراز هر سمستر (۱۶) تدریسی اونۍ دی چی ټولټال (۱۵۹) کریډیټونو لرونکی دی ۰

- **د تدریس او زده کړیز میتود:**

په اداره او ډیپلوماسی څانګه کی د تدریس او زده کړیز میتود عبارت دی له: د پاورپینټ په مرسته لکچر نوټ ، مناقشه او مباحثه ، سوال او ځواب ، سیمینارونه او ګروپی کارونه .

د لـــوړو زده کـــړو وزارت

دخصوصی پوهنتونو عمومی ریاست

بُســـت پوهنـــتون

د حقـوق پوهنـځی

د ( عمومی ) ډیپارټمنټ

اول سمسټر

| شماره | مضامین | استاد | د مضمون کود | د کریدیت تعداد | د ساعتونه تعداد | ملاحظات |
|---|---|---|---|---|---|---|
| 1 | مبادی حقوق (۱) | | LA110 | 3 | 3 | اساسی |
| 2 | نړی سیاسی تاریخ (۱) | | LA111 | 2 | 2 | اساسی |
| 3 | د سیاست د علم بنسټونه (۱) | | LA112 | 2 | 2 | اساسی |
| 4 | نړیوال سازمانونه (۱) | | LA113 | 2 | 2 | اساسی |
| 5 | د اسلام د حقوقو بنسټونه (۱) | | LA114 | 2 | 2 | اساسی |
| 6 | اسلامی ثقافت (۱) | | LA115 | 1 | 1 | پوهنتون شمول |
| 7 | انګلیسی (۱) | | LA116 | 1 | 1 | پوهنتون شمول |
| 8 | د اقتصاد د علم بنسټونه (۱) | | LA117 | 2 | 2 | اساسی |
| 9 | د رسنیو حقوق | | LA118 | 2 | 2 | اختیاری |
| 10 | کمپیوتر | | LA119 | 1 | 1 | اختیاری |
| | ساعتونو او کریډیټونو مجموعه | | | 18 | 18 | |

د لـــوړو زده کـــړو وزارت

دخصوصی پوهنتونو عمومی ریاست

بُـــت پوهنــتون

د حقــوق پوهنـــځی

د ( عمومی ) ډیپارټمنټ

دویم سمستر

| شماره | مضامین | استاد | د مضمون کود | د کریدیت تعداد | د ساعتونه تعداد | ملاحظات |
|---|---|---|---|---|---|---|
| 1 | مبادی حقوق (۲) | | LA 220 | 3 | 3 | اساسی |
| 2 | نړۍ سیاسی تاریخ (۲) | | LA 221 | 2 | 2 | اساسی |
| 3 | د سیاست د علم بنسټونه (۲) | | LA 222 | 2 | 2 | اساسی |
| 4 | نړیوال سازمانونه (۲) | | LA 223 | 2 | 2 | اساسی |
| 5 | د اسلام د حقوقو بنسټونه (۲) | | LA 224 | 2 | 2 | اساسی |
| 6 | اسلامی ثقافت (۲) | | LA 225 | 1 | 1 | پوهنتون شمول |
| 7 | انګلیسی (۲) | | LA 226 | 1 | 1 | پوهنتون شمول |
| 8 | د افغانستان معاصر تاریخ | | LA 227 | 2 | 2 | پوهنتون شمول |
| 9 | احصاییه | | LA 228 | 1 | 1 | اختیاری |
| 10 | چاپیریال ساتنی حقوق | | LA 229 | 2 | 2 | اختیاری |
| | ساعتونو او کریډیټونو مجموعه | | | 18 | 18 | |

**د لــوړو زده کــړو وزارت**

**دخصوصی پوهنتونو عمومی ریاست**

**بُســت پوهنــتون**

**د حقــوق پوهنــځی**

**د ( عمومی ) ډیپارټمنټ**

**دریم سمسټر**

| شماره | مضامین | استاد | د مضمون کود | د کریدیت تعداد | د ساعتونه تعداد | ملاحظات |
|---|---|---|---|---|---|---|
| 1 | عمومی حقوق جزا (1) | | LA 323 | 2 | 2 | اساسی |
| 2 | معاصرحقوق سیستمونه (1) | | LA 331 | 2 | 2 | اساسی |
| 3 | وجایبو حقوق ( 1 ) | | LA 332 | 2 | 2 | اساسی |
| 4 | مالی حقوق (1) | | LA 333 | 2 | 2 | اساسی |
| 5 | عمومی اساسی حقوق(1) | | LA 334 | 2 | 2 | اساسی |
| 6 | کارحقوق (1) | | LA 335 | 2 | 2 | اساسی |
| 7 | اسلامی ثقافت (3) | | LA 336 | 1 | 1 | پوهنتون شمول |
| 8 | خارجی ژبه (3) | | LA 337 | 1 | 1 | پوهنتون شمول |
| 9 | سیاسی افکارو تاریخ (1) | | LA 338 | 2 | 2 | اساسی |
| 10 | تعاملی حقوق | | LA 440 | ۱ | ۱ | اختیاري |
| ۱۱ | د معنوی ملکیتونو حقوق | | LA ۴۳۹ | ۱ | ۱ | اختیاري |
| ساعتونو او کریډیټونو مجموعه | | | | 18 | 18 | |

د لــوړو زده کـــړو وزارت

دخصوصی پوهنتونو عمومی ریاست

بُســت پوهنــتون د حقـوق پوهنــځی

د ( عمومی ) ډیپارټمنټ

ځلورم سمسټر

| شماره | مضامین | استاد | د مضمون کود | د کریدیت تعداد | د ساعتونه تعداد | ملاحظات |
|---|---|---|---|---|---|---|
| 1 | عمومی حقوق جزا (2) | | LA 441 | 2 | 2 | اساسی |
| 2 | معاصرحقوق سیستمونه (2) | | LA 442 | 2 | 2 | اساسی |
| 3 | وجایبو حقوق( 2) | | LA 443 | 2 | 2 | اساسی |
| 4 | مالی حقوق (2) | | LA 444 | 2 | 2 | اساسی |
| 5 | عمومی اساسی حقوق(2) | | LA 445 | 2 | 2 | اساسی |
| 6 | اسلامی ثقافت (4) | | LA 446 | 1 | 1 | پوهنتون شمول |
| 7 | خارجی ژبه (4) | | LA 447 | 1 | 1 | پوهنتون شمول |
| 8 | سیاسی افکارو تاریخ (2) | | LA 448 | 2 | 2 | اساسی |
| 9 | بیمی حقوق | | LA 449 | 2 | 2 | اختیاری |
| 10 | محلی اداره | | LA 563 | 2 | 2 | اختیاری |
| ساعتونو اوکریډیتونو مجموعه | | | | 18 | 18 | |

د لــوړو زده کـــړو وزارت

دخصوصی پوهنتونو عمومی ریاست

بُســت پوهنــتون

د حقــوق پوهنــځی (اداری اودیپلوماسی ) ډیپارټمنټ

پنځم سمستر

| شماره | مضامین | استاد | د مضمون کود | د کریدیت تعداد | د ساعتونه تعداد | ملاحظات |
|---|---|---|---|---|---|---|
| 1 | عمومی نړیوال حقوق (1) | | LA 551 | 2 | 2 | اساسی |
| 2 | اساسی مقایسوی حقوق | | LA 5152 | 2 | 2 | اساسی |
| 3 | اداره او مدیریت (1) | | LA 553 | 2 | 2 | تخصصی |
| 4 | نړیوال اړیکو تاریخ (1) | | LA 554 | 2 | 2 | تخصصی |
| 5 | عمومی دیپلوماسی تاریخ (1) | | LA 5155 | 2 | 2 | تخصصی |
| 6 | ثقافت اسلامی (5) | | LA 446 | 1 | 1 | پوهنتون شمول |
| 7 | سیاسی جغرافیه | | LA 556 | 2 | 2 | تخصصی |
| 8 | نړیوال سیاستونه (1) | | LA 557 | 2 | 2 | تخصصی |
| 9 | د شخړو سولیز حل | | LA 558 | 2 | 2 | تخصصی |
| 10 | محلی اداره | | LA 560 | 1 | 1 | اختیاری |
| | مجموعه ساعتونه او کریډیتونه | | | 18 | 18 | |

**د لـــوړو زده کـــړو وزارت**

**دخصوصی پوهنتونو عمومی ریاست**

**بُســـت پوهـــتون**

**د حقـوق پوهنــځی**

**د اداره او ډیپلوماسی ډیپارټمنټ**

**شپږم سمستر**

| شماره | مضامین | د مضمون کود | د کریدیت تعداد | د ساعتونه تعداد | ملاحظات |
|---|---|---|---|---|---|
| 1 | حقوق جزائی بین المللی (1) | LA 773 | 2 | 2 | تخصصی |
| 2 | حقوق بین الملل خصوصی(1) | LA 774 | 2 | 2 | تخصصی |
| 3 | حقوق تجارت بین المللی(1) | LA 775 | 2 | 2 | عمومی |
| 4 | حقوق اداری(1) | LA 776 | 2 | 2 | تخصصی |
| 5 | حقوق بشر(1) | LA 777 | 1 | 1 | تخصصی |
| 6 | رهبری اصول(1) | LA 778 | 2 | 2 | تخصصی |
| 7 | مسایل سیاسی جهان(1) | LA 779 | 2 | 2 | تخصصی |
| 8 | اصول روابط بین المللی(1) | LA 780 | 2 | 2 | تخصصی |
| 9 | امنیت بین الملل(1) | LA 781 | 2 | 2 | تخصصی |
| 10 | مونوگراف | LA894 | 1 | 1 | عمومی |
| مجموعه ساعتونه او کریډیټونه | | | 18 | 18 | |

## د لــــوړو زده کـــړو وزارت

## دخصوصی پوهنتونونوعمومی ریاست

## بُســـت پوهنـــتون

## د حقــوق پوهنــځی

## د اداره او ډیپلوماسی ډیپارټمنټ

## اووم سمسټر

| شماره | مضامین | استاد | د مضمون کود | د کریدیت تعداد | د ساعتونو تعداد | ملاحظات |
|---|---|---|---|---|---|---|
| 1 | نړیوال جزا حقوق (1) | | LA 773 | 2 | 2 | تخصصی |
| 2 | خصوصی نړیوال حقوق(1) | | LA 774 | 2 | 2 | تخصصی |
| 3 | نړیوال تجارت حقوق(1) | | LA 775 | 2 | 2 | عمومی |
| 4 | اداری حقوق(1) | | LA 776 | 2 | 2 | تخصصی |
| 5 | بشرحقوق (1) | | LA 777 | 1 | 1 | تخصصی |
| 6 | رهبری اصول | | LA 778 | 1 | 1 | تخصصی |
| 7 | نړی سیاسی مسایل (1) | | LA 779 | 2 | 2 | تخصصی |
| 8 | نړیوال اړیکواصول (1) | | LA 780 | 2 | 2 | تخصصی |
| 9 | نړیوال امنیت | | LA 781 | 2 | 2 | تخصصی |
| 10 | اسلامی ثقافت | | LA 782 | 1 | 1 | پوهنتونشموله |
| 11 | مونوګراف | | LA 894 | 1 | 1 | اختیاری |
| مجموعه ساعتونه او کریډیټونه | | | | 18 | 18 | |

## د لــوړو زده کـــړو وزارت

## دخصوصی پوهنتونو عمومی ریاست

## بُســت پوهنــتون

## د حقــوق پوهنــځی

## (اداری اودیپلوماسی ) ډیپارټمنټ )

### اتم سمسټر

| شماره | مضامین | استاد | د مضمون کود | د کریدیت تعداد | د ساعتونه تعداد | ملاحظات |
|---|---|---|---|---|---|---|
| 1 | عمومی نړیوال حقوق (2) | | LA 662 | 2 | 2 | تخصصی |
| 2 | اداری او مدیریت (2) | | LA 663 | 2 | 2 | تخصصی |
| 3 | اساسی قانون | | LA 664 | 2 | 2 | اساسی |
| 4 | نړیوال اړیکو تاریخ (2) | | LA 665 | 2 | 2 | تخصصی |
| 5 | د څیړنی بنستونه | | LA 666 | 2 | 2 | تخصصی |
| 6 | نړیوال سیاستونه | | LA 667 | 2 | 2 | تخصصی |
| 7 | افغانستان بهرنیو اړیکو تاریخ | | LA 668 | 2 | 2 | تخصصی |
| 8 | سیاسی ټولنپوهنه | | LA 669 | 2 | 2 | تخصصی |
| 9 | سیاسی او اداری ترمینولوژی | | LA 672 | 1 | 1 | اختیاری |
| 10 | منځنی ختیځ کی حکومت او سیاست | | LA 671 | | | |
| 11 | اسلامی ثقافت | | LA | 1 | 1 | پوهنتون شمول |
| مجموعه ساعتونه او کریډیټونه | | | | 18 | 18 | |

- **ارزښتونه** :

د اسلامي او افغاني ارزښتونو، اعتقاداتو او فرهنګونو مراعاتول.

په استادانو او محصلینو کي هیوادنۍ مینه راژوندی کول.

په افغانستان کي د ټولو نافذه قوانینو رعایت.

کیفیت او عدالت ته لومړیتوب ورکول.

محصلینو ته تشویقي او زده کړیز چاپېریال چمتو کول.

د علمي کادرونو او کارمندانو تشویقول

ګروپي کارونه حمایه کول

له هر ډول سیاسي او قومي تعصبه پاکه اداره رامنځته کول.

- **د اداره او ډیپلوماسی څانګې د فارغ التحصیل روښانه تعریف:**

د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځۍ د اداره او ډیپلوماسی څانګه د مسلکي او متخصصو کادرونو د روزني په موخه ایجاد سوې، په دې اساس د اداره او ډیپلوماسی څانګه هغه شخص د خپل لیسانس دورې فارغ التحصیل بولي چې په یاد، ډیپارټمنټ کي( ۱۵۸ )کریډیتونه یې په یوه څلور کلنه تحصیلي دوره (۸ سمسټرونو) کي پوره کړي او د پوهې، وړتیاوو او چلند په برخو کي د لاندي شرایطو درلودونکی وي:

۱. د پوهې په برخه کي: د اداره او ډیپلوماسی څانګه فارغ التحصیل وکولای شي چي د لیسانس په کچه پر اداري، سیاسي، مذاکراتی، ډیپلوماتیکی ،کونسلی او ... موضوعاتو باندي برلاسی، په عملي او علمي مهارتونو تسلط ولري تر څو وکولای شي د متخصص کادر په توګه په ټولنه کي خپل شتون په ډاګه کړي.

۲. د وړتیاوو په برخه کي: د اداره او ډیپلوماسی څانګې فارغ التحصیل داسي یو شخص دی چي د اړتیا تر کچې له سیاسي، ډیپلوماټیکي ، اداري، کونسلي او مذاکراتي موضوعاتو سره آشنایي لري او پدې برخه کي د خپلي ټولنۍ ستونزي د هوارۍ توان لري.

۳. د چلند په برخه کي: د اداره او ډیپلوماسی څانګې فارغ التحصیل داسي یو شخص دی چي د خپلو تخصصي مضمونونو (اداري او سیاسي) او مسلکي مضمونونو له منځپانګي څخه یې د هیواد د نافذه قوانینو ته درناوی، اکاډمیک اخلاق، هیوادپالنه، لوړ اسلامي، انساني، افغاني او اخلاقي ارزښتونه یې زده کړي دي او ټولو ارزښتونو ته ژمن او د هر ډول تعصب او توپیري چلند څخه خلاص دي.

د اداره او ډیپلوماسی څانګې څخه فارغ شوي محصلین به پدې وتوانیږي، چي په سیاسي، اداري، حقوقي، ډیپلوماتیکي او قانوني مسائیلو او موضوعاتو وپوهیږي، همدارنګه د بُست پوهنتون په اسنادو او ډیپلوم به د هیواد په ګوټ ګوټ کي په

هر دولتي او خصوصي سکتور کي منل کيږي او همچنان موږ پدې وياړو چې زموږ اسناد د نړۍ په هر پوهنتون کې د ماسټرۍ او دوکتورا د پروګرامونو او زده کړو لپاره د منلو وړ دي.

--------------------------------------------------------------

د اداره او ډيپلوماسی څانګې کتلوګ چې په (۱۴) پاڼو کې ترتيب شوی دی، د څانګې د شورا په ( 2 ) مه غونډه کې په ( 06 / 02 /1400) نيټه تصويب شو.

د اداره او ډيپلوماسی څانګې کتلوګ چې په (۱۴) پاڼو کې ترتيب شوی دی، د پوهنځي د علمي شورا په ( ) مه غونډه کې په ( 09 / 02 /1400) تصويب شو.